ورځپاڼه
# هیواد

مؤسس: عبدالرووف بېنوا | د تاسیس کال۱۳۲۸ لمریز | سه شنبه د ذوالحجة الحرام ۲۰ مه ۱۴۴٦ق کال، د غبرګولي ۲۷ مه ۱۴۰٤ ل کال، د جون ۱۷ مه ۲۰۲۵م کال، خصوصي ګڼه ٦۷ مه ، پرله پسې ګڼه ۷۳۰مه، اتمه دوره


# مولوي امیرخان متقي پر ایران د اسرائیلو بریدونه له نړیوالو قوانینو سرغړونه وبلله

د افغانستان د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیر خان متقي د ایران د بهرنیو چارو له وزیر ډاکټر سید عباس عراقچي سره د ایران او اسرائیلي رژیم ترمنځ د وروستي وضعیت په اړه تیلفوني خبرې وکړې.

مولوي امیرخان متقي د ایران پر خاوره د اسرائیلي رژیم هوایي بریدونه وغندل او دغه بریدونه یې له نړیوالو قوانینو سرغړونه او د ایران د ملي حاکمیت نقض بللي دي.

ښاغلي متقي له ایراني ولس سره خپله خواخوږي څرګنده کړه او د افغانستان له لارې سعودي عربستان کې د پاتې ایراني حجاجو د خوندي لېږد په برخه کې یې د همکارۍ ډاډ ورکړ.

ورته‌مهال د ایران د بهرنیو چارو وزیر د اسلامي امارت له دریځه او د ایراني حاجیانو د لېږد په برخه کې د همکارۍ له چمتووالي څخه مننه کړې او افغانستان یې د یوه ملاتړي او خواخوږي هېواد په توګه د ایران یو ښه ګاونډ بللی دی.

# د کابینې غونډه کې پر مهمو اقتصادي مسایلو بحث او پرېکړې وشوې



د افغانستان اسلامي امارت د کابینې ۲۲مه غونډه د رئیس الوزراء ملا محمدحسن اخوند په مشرۍ پرون تر سره شوه. غونډه کې د هېواد پر مهمو اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي مسایلو بحث او پرېکړې وشوې.

غونډه کې د سیندونو د حریم، سرسبزۍ او دې سیمو ته د ورتلونکو سېلانیانو لپاره د خدمتونو وړاندې کولو په اړوند بحث و شو او ټاکلي پلاوي ته دنده وسپارل شوه؛ ترڅو اړوند ادارات مکلف کړي چې خپله برخه کې لازم اقدامات ترسره کړي. د یادونې وړ ده، چې د کابینې یاده غونډه د ګڼو موضوعاتو په اړه له تفصیلي بحث او پرېکړو وروسته د خیر په دعا سره پای ته ورسېده.

## ذبیح الله مجاهد:
# د افغانستان لپاره د قزاقستان د ځانګړي استازي ټاکل د اړیکو برخه کې مهم ګام دی

د اسلامي امارت ویاند مولوي ذبیح الله مجاهد د افغانستان لپاره د قزاقستان ځانګړي استازي ټاکل کېدل د دواړو هېوادونو ترمنځ د اړیکو برخه کې مهم ګام بللی. ښاغلي مجاهد رسنیو سره خبرو کې




د کابل او استانې ترمنځ د اړیکو د لا پراختیا هیله ښودلې. له دې وړاندې قزاقي رسنیو خبر ورکړی و، چې یرکین توکوموف د افغانستان لپاره د یاد هېواد د ځانګړي استازي په توګه ټاکل شوی. توکوموف له ۲۰۲۲ کال راپه دې خوا د قزاقستان د ستراتیژیکو څېړنو ادارې د مسئول په توګه پاتې شوی.د یادونې وړ ده، چې له قزاقستان سره په بېلابېلو برخو کې د افغانستان اړیکې نوي پړاو ته ننه شوي. اوس یاد هېواد له اسلامي امارت سره د اړیکو د لا ټینګښت په موخه د افغانستان لپاره خپل ځانګړی استازی هم نومولی دی. حریت

# سرحدي او ډیورنډ فرضي کرښې ته څېرمه د یو میلیارد افغانیو په لګښت پروژې تطبیقېږي

اسلامي امارت وايي چې د ۳۴۳سرحدي پروژو لپاره یې یو میلیارد افغانۍ ځانګړې کړې دي. د دوی په وینا دغه پروژې سیمو ته په کتو لومړنۍ اړتیاوې دي، چې د روغتیا، تعلیم، پراختیا او بیارغونې لپاره ځانګړې شوې دي او په ترسره کېدو سره به یې دویمو او درېیمو اړتیاوو ته هم رسېدنه وکړو.

د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت، د سرحدي پلټنو مرستیال محمد اسماعیل غزنوي رسنیو ته وویل چې اوس‌مهال یوازې په دوه زونونو ( ختیځ او جنوب ختیځ) کې دغه پروژې ترسره کېږي، چې ورپسې به نورو سرحدي سیمو ته هم دغه چوپړتیاوې وغځېږي. ده وویل: اوس‌مهال د هېواد په ۷ ولایتونو کې ټولټال ۳۴۳ پروژې، د صحت، تعلیم، مخابراتو، د کلیو د پراختیا او رغونې، اوبو، سړکونو، جوماتونو او مدارسو په باب منظورې شوي، چې له ډلې یې پر ۷٦ پروژو عملاً کار روان دی.

له دغو اوو ولایتونو څخه یې ۸۱ خوست، ۸۱ پکتیا، ۷۳ پکتیکا، ٦۸ کونړ ... ۳مخ

## د مالیې وزارت:
# له ایران سره د سوداګرۍ په وړاندې هېڅ خنډ نشته




د مالیې وزارت وايي، چې له ګاونډي هېواد ایران سره د افغانستان پولې او ګمرکونه پرانیستي دي او ګمرکي او سوداګریزي چارې له کومې ستونزې پرته په عادي ډول رواني دي. یاد وزارت زیاتوي، چې د ایران په بندر عباس کې هم له کومې ستونزې پرته د افغانستان د سوداګریزو توکو بارګیري په عادي ډول روانه ده. د مالیې وزارت د خبرپاڼې له مخې، یوازې د تېرې شنبه په ورځ د غبرګولي پر ۲۴مه د فراه ابونصر فراهي، د نیمروز او د ایران لوري ګمرکونه په دې هېواد کې د ځینو مراسمو په موخه تړل شوي وو، چې (یکشنبه، د غبرګولي ۲۵مه) یې بېرته پرانیستي او چارې یې د پخوا په څېر په عادي توګه رواني دي.

# د کابل ښار لپاره ۲۵۸ پراختیایي پروژې پلان شوي

د کابل ښاروالۍ مسئولین وايي: روان۱۴۰۴ کال یې د کابل ښار لپاره د خپلې پراختیایي بودیجې پر مټ ۲۵۸ بېلابېلې پروژې پلان کړې، چې ډېرې یې د سړک جوړونې په برخه کې دي او له پلان سره سم به یې پلې کړي. کابل ښاریان د ښاروالۍ کارونه ستایي او وايي، چې د ښار په نظم کې یې مهم رول لوبولی دی. دوی له نورو ښاریانو غواړي، چې د ښاري نظم په برخه کې له ښاروالۍ سره همکار واوسي. د مسئولینو په وینا، اوس‌مهال د کابل ښار په کچه ګڼ شمېر پراختیایي پروژې تر کار لاندې دي، چې په نږدې راتلونکې کې به ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.



## عتیق‌الله‌عزیزي:
# بهزاد نندارتون د هنري میراثونو د پېژندلو مهم مرکز بلل کېږي




د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د هنر او کلتور معین مولوي عتیق‌الله عزیزي، په داسې حال کې چې د کابل ښاروالۍ د کلتوري چارو رئیس قاري ولي ګل جواد او د تاریخي آبداتو د ساتنې رئیس انجنیر حسیب نسیمي یې ملتیا کوله؛ پرون په کابل ښار کې د بهزاد نندارتون او د وچو مېوو جوړېدونکي مارکېټ له رغنیزو چارو څخه لیدنه کړې ده. باختراطلاعاتي آژانس ته په رارسېدلې خبرپاڼه کې راغلي، چې مولوي عتیق‌الله عزیزي د دې لیدنې پر مهال ویلي دي: (( د بهزاد نندارتون یاده فرهنګي خونه، نه یوازې یو تاریخي ارزښت لري؛ بلکې د ملي هویت او هنري میراثونو د پېژندلو لپاره یو مهم مرکز هم بلل کېږي، چې یاده سیمه له تېرو شاوخوا ... ۳مخ

# فاریاب کې ښوونځي ته ودانۍ جوړه شوه

د فاریاب د پوهنې ریاست مسئولین وايي چې د یاد ولایت د خواجه موسی ولسوالۍ په دهکده الماري سیمه کې د څه باندې ۲۱ میلیونو افغانیو په لګښت یوه ښوونځي ته ودانۍ جوړه او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه. د یاد ولایت د پوهنې رئیس مولوي حمیدالله ارشاد باختراطلاعاتي آژانس ته ویلي چې دغه ودانۍ په دوو پوړونو کې د ۲۱ میلیونه ۳۴۰ زره افغانیو په لګښت جوړه شوې، چې په کې ۱۳ درسي، یوه اداري خونه، لابراتوار، د لوبوډګر، د یوې څا کیندل، مبرز، استنادي دېوال، میز او څوکۍ او نور اړین ملحقات شامل دي، چې په بشپړېدو سره یې ۱۰۰۰ زده کوونکو ته د زده کړو زمینه برابره شوې ده.د یادونې وړده، چې د پوهنې په برخه کې د معیاري ودانیو نشتوالی لاهم په فاریاب کې یوه له لویو ننګونو څخه ده، خو د دغه شان پروژو په پلې کولو سره د یادې ستونزې د حل لپاره عملي ګامونه پورته شوي دي.




# یک پل در ولسوالی نرخ ساخته می‌شود

اداره آمادگی مبارزه با حوادث میدان وردگ، یک پل با هزینه ۲.۵ میلیون افغانی در ولسوالی نرخ این ولایت را می‌سازد. مولوی فیض الله جلالی رئیس اداره آمادگی مبارزه با حوادث میدان وردگ، به آژانس باختر گفت که این پل در منطقه ده خرقه ولسوالی نرخ این ولایت، با هزینه ۲.۵ میلیون افغانی از بودجه این اداره، در مدت دو ماه ساخته می‌شود.وی افزود که با ساخت این پل مشکل رفت و آمد نزدیک به ۴هزار خانواده در منطقه ده خرقه ولسوالی نرخ رفع خواهد شد.

# د کتاب ارزونې کمېسیون غونډه وکړه

د باختر اطلاعاتي آژانس د رئیس مولوي ضیاءالحق حقمل په مشرۍ او د دغه کمېسیون د غړیو په شتون کې ، پرون د کتاب ارزونې کمېسیون نوبتي ناسته ترسره شوه.

د ناستې په پیل کې د کمېسیون منشي د تېرې ناستې راپور وړاندې کړ او د باختر اطلاعاتي آژانس رئیس هم د کمېسیون لاسته راوړنې او فعالیتونه مثبت وارزول.

په ناسته کې د بېلابېلو کتابونو په اړه لازمې پرېکړې و شوې او هغو کتابونو ته چې له اسلامي او افغاني ارزښتونو ... ۳مخ

# د ایران او اسرائیلو جنګ د څه لپاره؟

۲

# افشای چهره واقعی گروهی بنام جبهه مقاومت در سایه حمایت دشمنان امت اسلامی

۲

# ننګرهار کې د کچالو ساتنې ۱۰سړې خونې جوړېږي

د ننګرهار د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست مسئولین وايي، چې د دغه ولایت په خوګیانو ولسوالۍ کې د څه باندې ۷ میلیونه افغانیو په لګښت د کچالو لپاره د ۱۰ سړو خونو د جوړولو چارې پیل شوې دي. د ننګرهار ولایت د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ ریاست رسنیز دفتر باختر اطلاعاتي آژانس ته په استولې خبرپاڼه کې لیکلي، چې دغه سړې خونې د خوګیانو ولسوالۍ په ۱۰ کلیو کې د ملګرو ملتونو ... ۳مخ



# د ایران او اسرائیلو جنګ د څه لپاره؟

**سالمزی**

ایران د ۱۹۷۹ م کال له اسلامي انقلاب وروسته اسرائیل یو نامشروع رژیم بولي، چې د فلسطینیانو خاوره یې اشغال کړې ده. ایران د قدس د ازادۍ شعارونه ورکوي او غواړي چې بیت المقدس (یوریشلم) د مسلمانانو تر کنټرول لاندې وي. ایران د فلسطین د حماس، الجهاد اسلامي او د لبنان د حزب الله مالي او نظامي ملاتړ کوي. دا ډلې بیا پر اسرائیلو بریدونه کوي. اسرائیل دا کار د خپل ملي امنیت لپاره خطر ګڼي او اسرائیل وېره لري چې ایران غواړي اتومي وسلې جوړې کړي. دا وسلې د اسرائیلو د بقا لپاره خطر بلل کېږي. همدا دلیل دی چې اسرائیل وخت ناوخته د ایران د اتومي تاسیساتو خلاف پټ یا علني اقدامات کوي. همدارنګه ایران د سوریې له لارې غواړي حزب الله ته وسلې واستوي. اسرائیل بیا د سوریې د ننه د ایراني مرکزونو پرضد بریدونه کوي. دواړه هېوادونه یو پر بل سایبري بریدونه کوي. کله د (Stuxnet) ویروس او هم د جاسوسانو د نیولو ادعاوې لري. لنډه دا چې ایران او اسرائیل د مذهبي، سیاسي، نظامي او سیمه ییز نفوذ له کبله یو له بل سره مخالفت لري. که څه هم دوی تراوسه مستقیم رسمي جنګ نه دی کړی، خو د دواړو ترمنځ نیمه پټه جګړه روانه ده. لکه د نورو ډلو له لارې جنګ، سایبري بریدونه او هوايي بمبارونه. دلته د ایران او



اسرائیلو د وروستیو پېښو جامع او تازه انځور وړاندې کوم، چې اوس مهال په بشپړ ډول جګړې ته نږدې دي. د اسرائیلو پر ایران (Operation Rising lion) ښکاره پوځي عملیات د جون په ۱۳مه ۲۰۲۵ کال د اسرائیلو پوځ (IDF) یوه پراخه هوايي او سایبري حمله پر ایران ترسره کړه چې پکې ګڼې اتومي او نظامي ودانۍ، موټرونه او لوړ پوړي چارواکي لکه جنرال حسین سلامي او محمد باقري ووژل شول. کچه یې د ۲۰۰ الوتکو او ۳۳۰ بمونو په کارولو سره د تاریخ له ټولو لوی او معتبر برید ګڼل کېږي. د ایران پراخه تلافي (Operation true promise) ایران بیا وړمه شپه د (۱۵۰) بالستیک میزائیلو او ۱۰۰ ډرونونو پرمټ پر اسرائیلو بریدونه وکړل. په دې بریدونو کې لږ ترلږه شل ملکي کسان وژل شوي، سلګونه ټپیان شوي او درانه زیانونه یې په ګڼ شمیر ښارونو کې رامنځ ته کړي دي. په ټوله کې د تلفاتو اندازه د دواړو خواوو لپاره مهمه وه. له کورونو، پوځي او بنسټیزو مرکزونو سره په منځ کې فضایي مراکز هم شامل وو. ایران د Haj Qassem او Qassem Bassir متوسط او اوږود واټن میزائیلونه وکارول، چې هدف یې اسرائیلي دفاعي سیستمونه وو او په ځینو مواردو کې یې سخت بریدونه وکړل او بریتانیې خپلې جنګي الوتکې د منځني ختیځ سیمې ته واستولې او په سفارتي کچه یې د جګړې د پراخېدو پرضد خبرداری ورکړ. د ملګرو ملتونو سرمنشي انتونیوګوتریش له دواړو طرفونو څخه عاجله او چټکه غوښتنه کړې چې جنګ د حل لاره نه ده او ستونزې باید د خبرو له لارې هوارې شي، ایرلنډ کاناډا، فرانسې او استرالیا او نوره نړۍ د تاوتریخوالي په له منځه وړلو ټینګار کوي. ټرمپ ویلي: بریدونه ممکن کېدای شي وشي خو غوره لاره یې دیپلوماتیک حل ګڼلی. سره له دې یې دا هم وویل: که ضرورت شو متحده ایالات به له اسرائیلو ملاتړ وکړي، خو زما په اند دا ټول هغه څه دي چې ستر استعماري طاقتونه د خپلو موخو او اهدافو لپاره او د خپلو رقیبانو د کمزوري کولو په موخه یو د بل ترشا دربېږي او په نړۍ کې یې نیابتي جنګونه او نیابتي ډلې جوړې کړي او د یو بل پرخلاف یې استعمالوي. مسلمانانو ته پکار ده چې له دغو ترخو تجربو پند واخلي، پخپلو کې سره یوموټي شي او د استعمارګرو او یرغلګرو ځواکونو هر ډول دسیسې پخپلو هېوادونو کې شنډې کړي. د اسلامي هېوادونو د زمامدارانو غفلت او غلام صفته موجودیت د دې باعث شو چې خپله دا تجربه له اسلامي هېوادونو پیل کړي او پکې بریالي هم شول، خو که موږ د غفلت له خوبه رابیدار شو او پخپلو کې سره یو موټي شو د نړۍ هېڅ زبرځواک مو د ماتولو توان نه لري او نه به یې ولري. په همدې هیله.



# د مشرتابه له لوري د دیني او علمي بنسټونو د پیاوړتیا هڅې !!

په یوه ټولنه کې د اصلاح، تربیت، هدایت او د دین د اساساتو د ساتنې مهم مسئولیت د علماءو پر غاړه وي. همدا علماء دي، چې د امت معنوي ستنې او د امت د عزت، بقاء او ثبات ضامن ګڼل کېږي.

د همدې ستر حقیقت پر بنسټ، د افغانستان د اسلامي امارت عالیقدر زعیم، امیرالمؤمنین (حفظه الله) تعالی، د جهادي مدارسو د استادانو، مهتممینو او ناظمانو لپاره په کندهار کې د یوه روزنیز او اصلاحي سیمینار له لارې د علماءو د ارزښت، مسئولیت او مقام په اړوند ارزښتناکه وینا وکړه، چې نه یوازې د علم او عمل پر اهمیت یې رڼا واچوله، بلکې د دیني بنسټونو د پیاوړتیا لپاره یې ژور پیغامونه هم ورسول. دغه یو ورځنی سیمینار، چې د دیني علومو د ترویج، اصلاح، همغږۍ او تربیې لپاره جوړ شوی و، د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی په علمي، فکري او سیاسي وینا سره لا نور هم مهم شو. په دغې وینا کې، عالیقدر امیرالمؤمنین نه یوازې د جهادي مدارسو د استادانو، رئیسانو او مهتممینو هڅې وستایلې، بلکې دوی ته یې مهمې توصیې هم وکړې او ویې ویل، چې د دیني، اخلاقي، اجتماعي او سیاسي مسئولیتونو تر څنګ دې، د شاګردانو باطني او ظاهري تربیت ته هم ځانګړې پاملرنه وکړي.

عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله ) تعالی د علماءو پر سپېڅلي مقام او ستر رول ټینګار وکړ او ویې ویل: (( علماء هغه طبقه ده، چې الله جل جلاله، له نورو مخلوقاتو لوړ عزت ورکړی دی. دا خلک د انبیاءو علیهم السلام وارثان دي، چې د دین د حفاظت، د شریعت د اقامې، د امت د هدایت، د قضاوت او د جهاد د رهبرۍ دروند مسئولیت یې پر غاړه دي.)) دا څرګندونې د دې څرګند ثبوت دی، چې د علماءو ځای په اسلامي نظام کې یوازې د منبر او فتوا نه دی، بلکې دوی د ټولنې په هر اړخ کې د رهبرۍ او پیاوړې فیصلې واک لري.

د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله) تعالی له لوري د جهاد، دعوت، تعلیم، فتوا، نصیحت او قضاء ترمنځ موجوده اړیکه بیانول، هغه حقیقت ته اشاره ده، چې د دین ساتنه یوازې د کتابونو په تدریس نه کېږي، بلکې دا یو جامع مسئولیت دی، چې د ټول امت د فلاح، یووالي او عزت لپاره د علماءو له پوره هڅې، قربانۍ او ژمنتیا سره تړلی دی.

عالیقدر امیرالمؤمنین دا هم واضح کړه، چې د دین اقامه یوازې هغه مهال ممکنه ده، چې د دیني علومو احیا وشي، ځکه علم دی، چې اصلاح راولي، فکر جوړوي، عقیده روښانه کوي او ذهنونه د شریعت د نور له لارې روښانه کوي. همدارنګه، ده په ټینګار سره وویل، چې د دیني مدارسو طالبان او شاګردان باید نه یوازې په ظاهري توګه، بلکې په باطني توګه هم وروزل شي. د کندهار سیمینار د جهادي مدارسو د استادانو، مهتممینو او ناظمانو لپاره یو مهم معنوي او فکري روزنیز فرصت و. د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله ) تعالی ارزښتناکې وینا نه یوازې د دوی د رسالت یادونه وکړه، بلکې د دیني تعلیم، اصلاح، اطاعت او مسئولیت د پیاوړتیا نوې نقشه یې هم ورته ترسیم کړه. دې سیمینار د یو داسې دیني او سیاسي فکر بنسټ کېښود، چې له مخې به یې د اسلامي امارت علمي بنسټونه لا پیاوړي، متحد او ټولنیز خدمت ته ژمن شي او هغه رسالت چې له انبیاءو وروسته د دوی پرغاړه دی په ښه ډول اداء کړي. هغه ټولنه چې وګړو یې د اسلام د ساتنې لپاره بېدریغه قربانۍ ورکړې، له هر قسم فکري او ایډیالوژیک انحراف څخه باید وژغورل شي. لنډه دا چې دا د مسلمان زعامت له ټولو مهم مسئولیت او مکلفیت دی. کوم چې عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله) په ښه ډول اداء کړ او په دې لاره کې هراړخیز کار او پاملرنه دوام لري.

# افشای چهره واقعی گروهی بنام جبهه مقاومت در سایه حمایت دشمنان امت اسلامی

**رحمت الله فیضان**

جیسون کریس هاک ، رئیس نهاد موسوم به « دوستان افغانستان » و از چهره‌های وابسته به محافل نظامی و سیاسی غرب، با نشر یادداشتی در شبکه لینکدین ، بار دیگر به وابستگی کامل جبهه موسوم به « مقاومت ملی افغانستان » به سیاست‌های سلطه‌گرانهٔ امریکا اعتراف کرد. او در این یادداشت تصریح کرده است که این گروه همواره در پی جلب رضایت اربابان غربی خود بوده و هیچگاه از فرصت خیانت به نیروهایی که سال‌ها ملت مسلمان افغانستان را اشغال کرده‌اند، غفلت نمی‌ورزد. به گفته وی، اگر این جبهه تصمیم بگیرد با جمهوری اسلامی ایران رابطه برقرار کند و با ایران دوست شود به صف دست نشانده های تروریست آنها تمام خواهد شد و نزد حامیان غربی‌اش مشروعیت و اعتبار خود را از دست خواهد داد.

این سخنان، پرده از چهرهٔ واقعی و ضد ملی این جریان برمی‌دارد؛ جریانی که به‌جای تکیه بر ملت خود و ارزش‌های اسلامی وملی ، در پی خوش‌خدمتی به دشمنان امت اسلام است و بقای خود را در حمایت استعمارگران و اشغالگران می‌بینند.

کریس هاک در ادامه، در حمله‌ای سخیف به جمهوری اسلامی ایران، آن کشور را «تروریست ضدغرب» خواند و ادعا کرد که «طالبان هم می‌خواهند شبیه جمهوری اسلامی شوند». این در حالی است که امارت اسلامی افغانستان با استقلال کامل، مبتنی بر منافع ملت مسلمان، از هرگونه وابستگی و دخالت خارجی دوری جسته و در پی وحدت امت اسلامی و تعامل مثبت با جهان است.

اظهارات این مقام غربی، هراس آشکار آنان از بیداری ملت‌ها و اقتدار روزافزون نظام اسلامی در افغانستان را بازتاب می‌دهد. ناکامی مزدوران داخلی امریکا در تحقق نقشه‌های استعماری، موجب شده است که چهره‌هایی چون جبهه مقاومت، بیش از پیش به ابزار تبلیغاتی دشمنان اسلام تبدیل شوند.

رهبران فعلی جبهه مقاومت، همچون پدران‌شان در گذشته، روابط نزدیکی با استعمارگران، به‌ویژه حلقات صهیونیستی داشته‌اند. یکی از این چهره‌ها، برنارد هنری لوی، شخصیت مشهور یهودی و چهره شناخته‌شده در دسیسه‌ها و تراژیدی‌های جهان اسلام است. او که خود را در لباس فیلسوف پنهان کرده، سال‌ها در کنار احمدشاه مسعود ظاهر شده و بارها به افغانستان سفر کرده است. اکنون نیز از حامیان سرسخت احمد مسعود، فرزند احمدشاه مسعود، در مبارزه علیه حکومت مشروع و ملی افغانستان می‌باشد. او باور دارد که احمد مسعود می‌تواند راه پدرش را ادامه دهد.

افزون بر این، روشن است که بسیاری از افراد وابسته به این جبهه، با عناوین گوناگون در کشورهای منطقه، به‌ویژه در جمهوری اسلامی ایران زندگی می‌کنند. شایسته است مسئولین جمهوری اسلامی بدانند که این اشخاص، کسانی‌اند که بخاطر منافع شخصی، کشور و ملت خود را به اشغالگران فروخته‌اند و اکنون نیز از راه‌های مختلف به آنان خدمت می‌کنند.

امارت اسلامی افغانستان این‌گونه توطئه‌ها را با درایت، استقلال و اتکا به خداوند متعال پاسخ داده و به‌عنوان نماینده واقعی مردم این سرزمین، در برابر مزدوران و اربابان‌شان با ثابت قدمی ایستاده است.

## تېره اوونۍ د هرات تاریخي سیمو ته د ۱۵ زرو کورنیو ګرځندویانو سفر؛
# د فرهنګي میراثونو لیدو ته د خلکو لېوالتیا ډېره شوې

هرات، چې د افغانستان یو لرغونی او کلتوري ولایت ګڼل کېږي، د تېر لوی اختر په ورځو کې د هېواد له بېلابېلو سیمو څخه د زرګونو کورنیو ګرځندویانو کوربه و. د دغه ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست د معلوماتو له مخې، یوازې د لوی اختر په مناسبت د یوې اوونۍ په موده کې شاوخوا ۱۵ زره کورنیو سیلانیانو د هرات تاریخي او فرهنګي ځایونه لیدلي دي.



د هرات د اطلاعاتو او فرهنګ رئیس مولوي احمدالله متقي ویلي: د ګرځندویانو د زیاتوالي بهیر د خلکو له فرهنګي میراثونو سره د مینې او لېوالتیا ښکاره نښه ده.

نوموړي زیاته کړې: «د اختر په ورځو کې ۱۵ زره هېوادوال له خپلو کورنیو سره هرات ته راغلل. ډېرو یې له اختیارالدین کلا، ملي موزیم، د هرات لوی جامع جومات، د جهاد منظر او منارو څخه لیدنه وکړه».

له بلخ، کابل او کندهار څخه هرات ته راغلو ځینو کورنیو ګرځندویانو دغه ولایت د هیواد د تاریخ او فرهنګ یوه بډایه خزانه بللې ده.

د معلوماتو له مخې، په دغه ولایت کې له ۷۸۰ څخه ډېر کلتوري او تاریخي میراثونه خوندي دي.

د محمد صادق په نامه، یو تن سیلاني چې له کابل څخه... ۳مخ

# تکلیف غربی ها چیست و چه می‌خواهند؟!

**استوار**

آنچه که قابل مکث و تأمل است و توجه انسان را جلب می‌کند، اینست آنانی که داد از حقوق انسان سرمی دهند وگلو پاره می‌کنند، خود ناقض حقوق بشر و کرامت انسانی اند .

تا جایی که بنده از فحوای تاریخ و فراز و نشیب های آن در جوامع بشری میدانم ،بویژه در غرب و کشورهای اروپایی همیشه تنش ها و زد و بندهایی وجود داشته که باعث جنگ های اول و دوم جهانی نیز گردیده است . در نهایت امر حس خودکامه گی وخود محوری وسلطه جویی در وجود غربی ها رشد بیشتر نموده و در هرگوشه ای از جهان سبب جنگ و تنش گردیده اند و از سوی دیگر ندای حقوق انسانی را سر می‌دهند. پس از سال ۱۹۴۵ و ختم جنگ دوم جهانی همین غربی ها بودند که آتش جنگ های مرموزانه و خانمانسوز نیابتی را در اکثریت نقاط جهان راه انداختند.

ما طی چند دهه اخیر شاهد ویرانی چندین کشور هستیم که از سوی قلدران غرب صورت گرفته است.

در بحبوحه ی این بی سروسامانی ها بیشتر از یک سال شد که غزه سرزمین قدس در آتش جنون و مستی هیولای وحشی رژیم صهیونیستی اسرائیل و حامیانش می‌سوزد و جهان نظاره گر بدبختی های مردم غزه اند، که چنین نابخردی و ظلم در تاریخ بشریت صورت نگرفته، اما باتأسف و دریغ و درد، حتی کشور های اسلامی صدا بلند نکردند، چه رسد به اینکه دست بکار شده و عملاً ... ص۳

## اعلان دعوت به داوطلبی

ریاست تدارکات وزارت صحت عامه از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در پروسه داوطلبی بار سوم پروژه اعمار سرک، تعمیر های اداری، دیپوی مواد خام و پخته فابریکه محلولات زرقی تحت ریفرنس نمبر MOPH/1404/ NCB/W-1613 اشتراک نموده و سافت شرطنامه را از سایت tenders.ageops.af بدست آورده، آفر های خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سربسته از تاریخ نشراعلان الی ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر روز سه شنبه تاریخ ۱۴۴۷/۰۱/۱۱ هـ ق که مصادف به ۱۴۰۴/۰۴/۱۷ ه ش میباشد در اطاق آفرگشایی ریاست تدارکات وزارت صحت عامه واقع چهاراهی صحت عامه، ارایه نمایند. آفرهای ناوقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمی باشد.

تضمین آفر بصورت بانک گرنتی از یک بانک با اعتبار مبلغ (۱,۴۵۳,۰۰۰) یک میلیون و چهار صد و پنجاه و سه هزار افغانی بوده و جلسه آفرگشایی به ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر روز سه شنبه تاریخ ۱۴۴۷/۰۱/۱۱ هـ ق که مصادف به ۱۴۰۴/۰۴/۱۷ هـ ش در اطاق آفرگشایی ریاست تدارکات وزارت صحت عامه واقع چهاراهی صحت عامه، تدویر می گردد.

## د داوطلبی خبرتیا

د تدارکاتو ریاست ټولو په شرایطو برابرو داوطلبانو ته بلنه ورکوي تر څو د زرقي محلولاتو فابریکي اړوند اداري ودانۍ، پخو او خامو موادو ډیپوګانو رغولو پروژې چې د MOPH/1404/NCB/W-1613 ریفرنس ګڼې درلودونکې ده، د دریم ځل داوطلبۍ پروسه کې ګډون وکړي او د اړونده شرطپاڼې سافټ د tenders.ageops.af سایت څخه لاس ته راوړي، د تدارکاتو قانون، کړنلارې او د شرطپاڼې شرایطو سره سم دې خپل آفرونه د اعلان خپرېدو له نېټې څخه تر سه شنبې ورځې ۱۴۴۷/۰۱/۱۱ ه ق چې د ۱۴۰۴/۰۴/۱۷ ه ش نېټې سره سمون لري ترتیب او په یاده نېټه د سهار په لس بجو د عامې روغتیا وزارت تدارکاتو ریاست ته، چې د عامې روغتیا څلور لارې وزیر محمد اکبر خان کابل – د تدارکاتو ریاست د آفر پرانستنې خونې ته وسپاري. ناوخته رسېدونکي او انټرنېټي آفرونه د منلو وړ نه دي د آفر تضمین د (۱,۴۵۳,۰۰۰) یو میلیون او څلور سوه درې پنځوس زره افغانیو په ارزښت د بانک ګرنټي په بڼه دی او د آفر پرانستې غونډه به په یاده نېټه د عامې روغتیا وزارت د تدارکاتو ریاست د آفر پرانستې په خونه کې تر سره کیږي

## د داوطلبی خبرتیا

د مرکزی پولی کلینیک ریاست ټول په شرایطو برابرو داوطلبانو ته بلنه ورکوی، څو د (۲۱-قلم طبی ملزمات) پروژې داوطلبی په پروسه کی چی د (MOPH/CPC/NCB/1404/G001) شمیرې لرونکی ده ګډون وکړي او د شرطنامه سافت کاپی د فلش یا حافظې له لارې د تهیه و تدارکاتو مدیریت څخه ترلاسه کړي، او خپل وړاندیزونه (آفرونه) په شرطنامه کې د لیکل شویو شرایطو او د تدارکاتو قانون او طرزالعمل سره سم سرپټي بڼه آفر د پرانیستې ورځ یوه ورځ مخکې د مازدیګر تر ۳:۰۰ بجو پورې په نښه شوی صندوق چه د مرکزی پولی کلینیک ریاست کې شتون لري واچوی او د خپل رسید د تدارکاتو شعبې نه تر لاسه کړی،

د آفر تضمین د (بانکی تضمین) ۶۰۶۳۰ افغانۍ دی او د آفر پرانیستلو غونډه د ۲۱ ورځ وروسته له اعلان څخه د سهار په ۱۰:۰۰ بجو د مرکزی پولی کلینیک کنفرانس خونه کې تر سره کیږی.

## اعلان داوطلبی

ریاست پولی کلینیک مرکزی از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی(۲۱-قلم ملزمات طبی) تحت ریفرنس نمبر (MOPH/CPC/NCB/1404/G001) اشتراک نموده و نقل سکن شده و سافت شرطنامه مربوطه را طور رایگان در حافظه یا فلش دسک از مدیریت تهیه و تدارکات ریاست پولی کلینیک مرکزی و یا از سایت وزارت صحت عامه (WWW.MOPH.GOV.AF) بدست آورده آفر های خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سر بسته از تاریخ نشر اعلان باید آفر شرکت خویش را در صدوق/باکس آفرها که در داخل ریاست پولی کلینیک مرکزی یک روز قبل از آفرگشایی الی ساعت ۳:۰۰ بعداز ظهر انداخته و رسید را از شعبه تدارکات اخذ نمائید، تضمین آفر بصورت (تضمین بانکی) ۶۰۶۳۰ افغانی بوده و جلسه آفرگشایی ۲۱ روز بعد از اعلان به ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر در اطاق کنفرانس ریاست پولی کلینیک مرکزی تدویر میگردد.

# افغان اعلانات



## اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم محمد همایون فرزند گلا جان یک عراده موتر پلیت ۱۹۶۲۶- بس کابل نوع تیوتا کرولا سانگ یانگ خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای محمد احسان فرزند غلام حیدر بفروش رسانیده است. بناء اشخاص ادارات و موسساتی که با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۱۷۶۱

## اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم عبدالصمد فرزند عبد السلاح یک عراده موتر پلیت ۱۴۹۱۳ بس کابل نوع تیوتا کرولا سانگ یانگ بس کوریایی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای محمد احسان فرزند غلام حیدر بفروش رسانیده است. بناء اشخاص ادارات و موسساتی که با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۱۷۶۲

## اطلاعیه دعوت به داوطلبی

ریاست معارف ولایت پنجشیر از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی اکمال ۱۲ قلم مواد اعاشوی دار العلوم جامع الانوار مرکز اعتبار از نشر اعلان الی مدت ۲۱ روز تقویمی جهت اخذ شرطنامه به مدیریت عمومی تدارکات ریاست معارف پنجشیر مراجعه نموده و نقل چاپ شده شرطنامه مربوطه را در مقابل پرداخت مبلغ (۵۰۰) افغانی بدست آورده آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات خانه پری نموده به تاریخ تعین شده در آدرس درج شرطنامه ارایه نمایند آفرهای ناوقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نبوده و تضمین اخذ میگردد.۱۷۸۲

## اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم محمد عظیم فرزند محمد نعیم یک عراده موتر پلیت ۱۸۸۹۳ بس کابل نوع تیوتا کرولا سانگ یانگ بس کوریایی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای محمد احسان فرزند غلام حیدر بفروش رسانیده است.

بناء اشخاص ادارات و موسساتی که با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۱۷۶۰

## اطلاعیه فسخ جواز رهنمای معاملات

اسامی محترم عبدالمالک فرزند عبدالعزیز دارنده جواز نمبر (۱۳۲) مورخ ۱۴۰۱/۱/۲۴ متصدی رهنمای معاملات (عبدالمالک ترکمنی) واقع (متصل شفاخانه ابن سینا) ناحیه (۱) شاروالی کابل خواهان فسخ جواز خویش گردیده که بعد از نشر اعلان رهنمای مذکور فاقد اعتبار قانونی بوده هر گاه ادارات دولتی و اشخاص انفرادی بالای موصوف ادعای حقوقی به ارتباط فعالیت جواز مذکور داشته باشند بعد از نشر اعلان الی مدت یک هفته به ریاست عمومی انسجام، وزارت عدلیه اطلاع دهند.۱۷۶۸

## اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت نوین احمدی لمتید یک عراده موتر پلیت ۲-۷۸۴۲۲ ش کابل نوع تیوتا کرولا سالون خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای مسیر فرزند لطیف بفروش رسانیده است. بناء اشخاص ادارات و موسساتی که با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۱۷۶۹

## د فعالیت جواز ورکوي

د عدلې وزارت د انسجام لوی ریاست د ټولنو چارو ریاست په پام کې لري چې د ټولنې دلاښه تنظیم په موخه د اتحادیو او خیریه بنسټونو له کړنلارې سره سم،رحمت خیریه بنسټ ته د فعالیت جواز ورکړي.

دیاد جواز اخیستلو لپاره منصور حسین خیل د محمد انور زوی، د کابل ولایت اصلي او دکابل ولایت ۱۰ ناحیې فعلي اوسیدونکی د رییس، او احمد نوید د محمد عثمان زوی، د کندز ولایت خان آباد ولسوالی اصلي او دکابل ولایت ۵ ناحیې فعلي اوسیدونکی د مرستیال په توګه عارض شوي که پر یادو اشخاصو دصنف اړوند کوم څوک نیوکه لري، د اعلان له نیټې څخه تر لسو ورځو پورې د عدلیې وزارت یاد ریاست ته خپل شکایت له اسنادو او شواهد و سره یوځای په لیکلې بڼه وړاندې کړې له یادې نیټې وروسته به نوموړو اشخاصوته د فعالیت جواز صادریږي چې دجواز د صدور له نیټې څخه د جواز تر نهایي نیټې پورې په یادو اشخاصو څوک د شکایت حق نه لری.۱۷۵۱

## اطلاعیه مفقودی

یک قطعه قباله شرعی نمبر ۴۰۴/۹ مورخ ۱۳۷۳/۱۰/۲۸ مرتبه محکمه ناحیه اول شهر کابل واقع سنگ تراشی به اسم محمد نبی فرزند پاچا ولدیت محمد صادق مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۷۹۵

## اطلاعیه مفقودی مهر دواخانه

محترم عبدالرحمن رحمانی فرزند بهاول ولدیت محمد ایاز دارنده تذکره نمبر (۹۲۵۳۲- ۰۹۰۱- ۱۳۹۹) مسکونه اصلی ولایت میدان وردگ مالک امتیاز دواخانه عبدالرحمن رحمانی واقع ناحیه پنجم ولایت کابل عنوانی معینیت غذا و ادویه وزارت صحت عامه عارض و از مفقودی مهر دواخانه خویش خبر داده است

اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد آگاهی حاصل نموده و از تاریخ نشر اعلان مطابق قانون و مقرره مهر دواخانه مذکور از اعتبار ساقط می باشد.۱۷۵۶

## موضوع: د نیو تکنیو زون شرکت سره د ترون د پرېکړې خبرتیا

پدې توګه د تدارکاتو د قانون د درې څلوېښتمې مادې د دویمې فقرې پر بنسټ ټولو ته خبر ورکول کیږي، د افغانستان د مخابراتي خدمتونو د تنظیم اداره (اتړا) په پام کې لري چې د مخابراتو وزارت اړوند آی ټي توکو پروژې ترون د نیو تکنیو زون شرکت سره چې جواز شمېره یې (10641 -0101) ده، د (۴۵۸۸۷۶۷.۵) څلور میلیونه پنځه سوه اته اتیا زره اوه سوه او اوه شپیته عشاریه پنځه افغانیو په ارزښت سره یاد شرکت ته اعطاء کړي.

حقیقي او حکمی افراد چې په دې برخه کې هر ډول نیوکې ولري، کولی شي د دې خبرتیا د خپرېدو له نېټې څخه تر اوو تقویمي ورځو پورې خپله نیوکه په لیکلي او مدلل ډول د مخابراتي خدمتونو د تنظیم اداري(اتړا) اداري ته، د تدارکاتو قانون د پنځوسمې مادې د حکمونو سره سم وړاندې کړي.

دا خبرتیا د ترون د ورکړې په مانا نده او د پورته ذکر شوې مودې او نورو قانوني پړاوونو تر بشپړېدو پورې به ترون عقد نشي.

## د داوطلبی خبرتیا

د دواطلبۍ ګڼه:خ.س.چ.ا.ش/ ۱۴۰۴/ پ.م.د/توکي-۱۶

د خوندي سندونو د چاپ امارتي شرکت، ټولو لیوالو داوطلبانو ته په خورا درنښت بلنه ورکوي تر څو د دې شرکت د ۱۴۰۴۱ مالي د خوندي سندونو د چاپ لپاره د امنیتي کاغذ پروژې تدارکاتي پروسه کې ګډون وکړي، خپل سر تړلې/ بند آفرونه د شرطپاڼې د شرایطو، د تدارکاتو قانون او طرزالعمل سره برابر د ۱۴۰۴ کال چنګاښ میاشتې تر (۲۲ مې) نېټې، د سهار تر ۱۰:۰۰ بجو پورې، د کابل ښاروالۍ د اومې ناحیې اړوند، چهلستون عمومي سړک د جنګلک پخوانۍ فابریکې داخل کې د خوندي سندونو د چاپ امارتي شرکت، دوهم پوړ کې د تدارکاتو آمریت ته تسلیم کړي. هېره د نه وي چې نا وخته او د بریښنالیک له لارې رسېدلي آفرونه نه منل کیږي.

همدارنګه د یادونې وړ ده چې داوطلبان کولای شي؛ شرطپاڼه د (NDA) یا د مالوماتو د نه افشاء ترون تر لاسلیک وروسته د مموری فلش یا هم بریښنالیک له لارې د تدارکاتو آمریت څخه تر لاسه کړي.

داوطلبان مکلف دي؛ د آفر تضمین د شرطپاڼې د شرایطو سره سم، د (۶۰۰،۰۰۰)/ شپږ سوه زره افغانیو په ارزښت، په بانکي او یا هم نقدي بڼه د خپل آفر سره یوځای وړاندې کړي. د یادې پروژې د آفر پرانستې غونډه د ۱۴۰۴ کال د چنګاښ میاشتې په(۲۲ مه) نېټه، د سهار په ۱۰:۰۰ بجو د کابل ښاروالۍ د اوومې ناحیې اړوند، چهلستون عمومي سړک د جنګلک پخوانۍ فابریکې داخل کې د خوندي سندونو د چاپ امارتي شرکت، د غونډو په تالار کې نیول کیږي.

---

## د فرهنګي میراثونو لیدو ته ...

هرات ته تللی و، وايي: «ما تل د هرات په اړه اورېدلي وو، خو کله چې مې خپله ولید، پوه شوم چې دا ښار د تاریخي ابدو، لرغونو ودانیو، ښکلو مسجدونو او غني فرهنګ یوه ژوندۍ ننداره ده».

دا چاره ښيي، چې د تېر په نسبت خپلو فرهنګي ارزښتونو ته د خلکو پام ډېر شوي او غواړي خپل تاریخ وپېژني.

کلتوري فعالان وايي: که چېرې د افغانستان امنیتي وضعیت همداسې روان وي او فرهنګي بنسټونه لا پراخ شي، نو یاد شوي ولایت به د کورنیو او بهرنیو ګرځندویانو لپاره د سیاحت یوه مهمه نقطه وګرځي.

کلتوري فعال نصرت الهام وویل: «د هرات تاریخي ارزښتونه یوازې د افغانستان نه، بلکې د ټولې سیمې لپاره مهم دي. که موږ د سیاحت پر صنعت پانګونه وکړو، دا نه یوازې اقتصادي ګټه لري، بلکې زموږ د کلتوري هویت د پیاوړتیا لامل به هم شي». نوموړي زیاتوي، د سیلانیانو د پام ورګرځولو لپاره د داسې تاریخي ځایونو پېژندنې، بیا رغونې او ښه مدیریت ته اړتیا ده.

په وروستیو کلونو کې د افغانستان کورني سیاحت د ودې ګامونه پورته کړي، چې د اسلامي امارت د چارواکو له لوري یې لوی لامل د امنیتي وضعیت ښه والی او دغې برخې ته د حکومت توجه بلل کېږي. د لوی اختر په مناسبت هرات ته د ۱۵ زرو کورنیو ګرځندویانو سفر له خپل کلتور او تاریخ سره د افغانانو لېوالتیا او د بیا پېژندنې یو ځرګند غبرګون ښکاري. ګمان کېږي چې که د فرهنګي سیاحت لپاره لا نور کار وشي، افغانستان ته به نه یوازې د خپلو خلکو، بلکې د نړیوالو سیلانیانو پام هم ورواړوي.

**نذیر منیب**

## تکلیف غربی ها چیست ...

از مردم غزه حمایت کنند.

در حالی که همه می‌دانند که در این ظلم و بیداد دست خونین غربی ها و در راس آن امریکا قرار دارد .

امروزه نیز شاهد تجاوز صریح و نقض قوانین ملل متحد از سوی رژیم اشغالگر اسرائیل به اشاره حامیان غربی اش بر سرزمین جمهوری اسلامی ایران هستیم که تعدادی از جنرالان و افراد مسلکی نیروهای هسته ای ایران را به شهادت رسانیده و به یکه تازی خویش ادامه می‌دهد.

سوال اینجاست که جهان ،بویژه کشور های اسلامی در مقابل این همه نابرابری های غرب تا چه زمانی سکوت اختیار می کنند وتا کی این گونه تجاوزات وحشیانه ادامه داشته باشد. همین غربی ها اند که در میان مسلمانان درز ایجاد نموده و اغراض شوم خویش را دنبال می‌نمایند.

بایسته است با تفاهم، تعاطی نظر و اتحاد جلو این تکتازی ها گرفته شده و متجاوزین خود کامه را به جای شان بنشانند، بی گمان این تجاوزات وتکتازی های غرب نظم و نظام جهانی را برهم زده و زمینه ساز جنگ سوم جهانی خواهد گردید.

در این میان رسالت و مسئولیت سازمان ملل و شورای امنیت آن چه بوده و چرا به گونه عملی پا در میانی نمی نمایند؟ فیصله های در حرف و در روی کاغذ بسنده نبوده، نیاز به اقدامات عملی است.

طی بیشتر از یک سال است که تجاوز اسرائیل بر سرزمین مقدس فلسطین به هزاران شهید و معلول اعم از زن، مرد، طفل وکودک برجاگذاشت، اما اجراءات عملی سازمان ملل متحد و شورای امنیت که صرف در حرف بوده چه راهکار عملی داشته است؟ باید گفت که هیچ، پس از فحوای وضعیت وحوادث اخیر می‌توان چنین برداشت کرد که یا سازمان ملل صلاحیت وظیفه ای نداشته و یا اینکه خود همین غربی ها دارای این صلاحیت بوده و سازمان ملل صرف در حد نام و عنوان قرار داشته، نه در حد یک نهاد جهانی و بس.

به هر صورت کشور های اسلامی باید در چنین مقطع زمانی با هوشیاری تمام اتحاد و وحدت خویش را حفظ نموده و به نظریات و گفتارهای شعبده بازانه این شعبده بازان مکار و استیلاگر تمکین نه نموده از همدیگر مردانه و فرزانه دفاع نمایند . جستار دیگر در این زمینه رقابت های جهانی ابرقدرت هاست که باعث بروز چنین تنش ها می گردد، اما آنچه که خیلی دردناک و تأسف بار است این زد وبند ها و در گیری ها به گونه نیابتی بوده، کشورهای ضعیف متضرر می‌شوند و کشور های قدرتمند در امان وتعیش به سر می‌برند، مبتنی بر جستار های فوق و وضعیت موجود بعید نخواهد بود که زندگی انسان‌ها در کره خاکی به جهنم تبدیل گردیده و شاهد جنگ سوم جهانی باشیم و در کل عامل و یا سبب این نابرابری ها غربی ها اند که باعث ویرانی کشورها و تباهی بشر می‌شوند، اما باترفند های مکارانه خود را مدافع حقوق بشر عنوان می کنند. بایسته است جهانیان این مداحان مکار را درست درک نموده و باهوشیاری تمام در قلع و قمع تجاوزات ایشان دست بکار شوند و نگذارند جهان به ویرانه ای تبدیل شود .

## سرحدي او ډیورنډ فرضي ...

۳۳ ننګرهار، ۷ نورستان او ۸۷ پروژې یې لوګر ( د لوګر لا منظورې شوې نه دي، اسناد یې تر څېړنې لاندې دي) ولایتونو ته ځانګړې شوې دي.

ښاغلي غزنوي په یاده برخه کې د عوامو له مرستې مننه وکړه، له هغوی یې د لا زیاتې مرستې غوښتنې ترڅنګ ډاډ هم ورکړ، چې د سرحدي سیمو ټولو ستونزو ته به رسیدګي وکړي.

د یاد وزارت د اطلاعاتو او عامه اړیکو رئیس مفتي تسلیم الله حقاني وویل: هڅه مو دا ده، چې نوموړې پروژې ژر تر ژره سرته ورسېږي او خلک یې له خدماتو برخمن شي. ده زیاته کړه، چې د دغو پروژو پیل یې له نورستان ولایت څخه کړی دی او د پروژو د ترسره کولو لپاره یې ۴ میاشتې وخت ورکړی دی.

دغه مسئولین وايي چې په دې پروژو کې داسې پروژې هم شته، چې د خلکو ۱۶ ساعته مزل یو نیم ساعت ته راولي او د لرې پرتو سیمو خلک هم سره وصل کیږي. تاج محمد بهار

## بهزاد نندارتون د هنري ...

درېوو لسیزو راهیسې یوه مخروبه او د کثافاتو د تجمع ساحه ګرځېدلې وه.))ده زیاته کړه، چې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت په هڅو او د ملي پانګوالو په مرسته؛ نه یوازې بهزاد نندارتون په معیاري او لرغوني سبک ورغول شو، بلکې د مناسب حریم په نظر کې نیولو سره یې ګرد چاپېر د هېواد د وچو میوو لپاره سوداګریز مرکز هم جوړ شوی دی. د یادونې وړ ده چې د بهزاد ننداړتون په شاوخوا کې جوړ شوي سوداګریز مرکز کې د وچو مېوو پر ننداړتون او خرڅلاو سربېره؛ د وچو مېوو د پروسس او صادراتو لپاره ځانګړې پلانونه او تدابیر هم په پام کې نیول شوي چې له دې لارې به نه یوازې داخلي بازار پیاوړی شي، بلکې بهرنیو هېوادونو ته به هم د افغاني وچو مېوو صادرات ډېر شي.

## د کتاب ارزونې کمېسیون ...

سره سم لیکل شوي دي؛ د چاپ اجازه ورکړل شوه.

د ناستې په پای کې، یو شمېر کتابونه چې کمېسیون ته د ارزونې په موخه راجع شوي وو؛ د کمېسیون پر غړو وویشل شول، څو په اړه یې راتلونکې ناستې ته راپور وړاندې کړي.

## ننګرهار کې د کچالو ...

د کرنې او خوړونړیوالې اداري په مالي ملاتړ د ۷ میلیونه ۸۰۰ زره افغانیو په لګښت جوړېږي، چې چارې به یې په نږدې راتلونکې کې بشپړې شي.

خبرپاڼه کې زیاته شوې، چې هره سړه خونه ۱۰ متره اوږدوالي ۹ متره سور او ۳ متره ژوروالي لري او دغه ټولې سړې خونې به د ۳۵ ټنه کچالو د ځایېدو ظرفیت ولري.

## پنجشیر د بدخشان له لارې ...

په پایله کې بشپړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو. د پنجشیر والي حافظ محمد اغا حکیم د دې سړک د جوړېدو هرکلی کړی او ویلي یې دي: اسلامي امارت ژمن دي، چې د ستراتیژیکو سړکونو په جوړولو سره پنجشیر له اقتصادي انزوا را وباسي او د سیمې د راکړې ورکړې په یوه څلورلارې یې بدل کړي.

د ویلو وړ ده، چې د دې سړک له لارې پنجشیر له نورستان، تخار، بدخشان او په پای کې له چترال سیمې سره وصل شوی دی.

## د صهیونیستي رژیم ...

د صهیونیستي اداري پر وړاندې وروستۍ بریا تر لاسه کولو ته نږدې شوي دي. دوی د ایران د وسله والو ځواکونو د هغې سترې بریا ستاینه هم کړې، چې د اشغالګرو د وجود بنسټونه یې ولړزول.د ایران او اشغالګر رژیم ترمنځ پر یوبل بریدونه څلورمې ورځې ته هم وغځېدل، چې دې موده کې دواړو لوریو ته درانه زیانونه اوښتي.

## لغمان کې سلګونو ...

د اوچا موسسې په مالي ملاتړ د ۹۱ زره ۴۰۱ ډالرو په لګښت جوړېږي، چې پر مټ به یې د سیمې ۴۵۰ کورنیو ته د ښښاک اوبه برابرې شي. د نوموړي په وینا، په یادو پروژو کې د ۸۰ مترو په ژوروالي د دوو څا ګانو کیندل هم شامل دي، چې چارې به یې د ۷ میاشتو په موده کې بشپړې شي.

## د لوی اختر ورځو کې ...

امنیت په ټینګېدو سره؛ هېواد ته د بهرنیو سیلانیانو راتګ مخ په زیاتېدو دی او یوازې د روان ۱۴۰۴ لمریز کال په لومړنیو دوو میاشتو کې شاوخوا ۳۰۰۰ سیلانیانو د هېواد له بېلابېلو تفریحي او تاریخي ځایونو څخه لیدنه کړې ده.

## خوست کې د غنمو ...

سږ کال یې د غنمو حاصلات د نورو کلونو په پرتله ښه وو. د علیشېرو ولسوالۍ یو تن بزګر عبدالله جان وویل، چې د غنمو د حاصلاتو د زیاتوالي لامل یو شمېر بزګرانو ته د اصلاح شویو تخمونو او کیمیاوي سرو ورکړه وه. ده وویل: سږ کال د غنمو کروندې له طبیعي افتونو خوندي پاتې شوې چې دا هم د حاصلاتو د زیاتوالي لامل شوې دي. ده غوښتنه وکړه چې ټولو بزګرانو ته که اصلاح شوي تخمونه ورکړل شي او لاسنیوي یې وشي، حاصلات به یې نور هم زیات شي.

## د پاکستان له بندخونو ...

د لسګونو افغانانو د خوشې کېدو او هېواد ته د راستنېدو خبر ورکړی و. د ویلو وړ ده چې د تېرې اپریل میاشتې له لومړۍ نېټې راپه دې خوا په پاکستان کې د افغان کډوالو نیول او په جبري توګه راستنول په کمسارې توګه زیات شوي او په څه باندې دوو میاشتو کې سلګونه زره افغانان په جبري توګه هېواد ته راستانه شوي دي. په ورته وخت کې پاکستاني چارواکو هلته د ټولو کډوالو پر ایستلو ټینګار کړی دی.

## امریکا کې سږکال ...

چې په دې وروستیو کې د امریکا ایالتونو کې وسله والې پېښې زیاتې شوي او امریکایان هلته د وسله والو پېښو او تاوتریخوالید زیاتېدو له امله پر چارواکو نیوکې کوي.

# Hewad Daily

د ورځپاڼو رئیس: انجنیر عُزیر« بریالی»
موبایل: ۰۲۰۲۵۲۶۳۴۰
مسئول مدیر: شبیر احمد عثماني
موبایل: ۰۷۷۷۷۱۹۱۲۵
مسئول سکرتر: شېر محمد نظري
موبایل: ۰۷۸۸۵۰۳۳۷۱

پته: اتمه ناحیه، د المپیک څلورلارې، د حضوري چمن ختیځ
کابل - افغانستان
داړیکو شمېره: ۰۲۰ - ۲۵۲۶۳۴۰
E-mail :info@hewaddaily.com
E-mail : hewad1948@gmail.com
دهیوادورځپاڼې انټرنېټي پاڼې دلاندې وېب سایټ له لارې هم کتلی شئ
وېب سایټ: www.hewaddaily.com
دشکایاتو اوتوزیع څانګه:
۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹-۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶-۰۷۳۶۰۶۰۷۳

سه شنبه د ذوالحجة الحرام ۲۰ مه ۱٤٤٦ق کال ا د غبرګولې ۲۷ مه ۱۴۰٤ ل کال ا د 2025م کال د جون ۱۷ مه


# پنجشېر د بدخشان له لارې له چترال سره ونښلول شو



د پنجشېر ولایت ویاند سیف‌الدین لټون وايي: د بدخشان ولایت د زیباک ولسوالۍ له لارې د پنجشېر او د ډیورند فرضي کرښې ترمنځ د ستراتیژیک سړک د جوړولو چارې بشپړې شوې دي، چې له دې سره بدخشان ولایت په لومړي ځل له چترال سره ونښلول شو . نوموړی زیاتوي: دا سړک چې اوږدوالی یې ۱۹۴ کیلومتره او سور یې لس متره دی، د افغانستان له هغو سختو غرنیو سړکونو څخه شمېرل کېده، چې اوس د اسلامي امارت او د ملي دفاع وزارت د فوق‌العاده لوا د پرله‌پسې هڅو ... ۳مخ

حماس جهادي غورځنګ:

## د صهیونیستي رژیم په وړاندې د وروستۍ بریا ترلاسه کولو ته نږدې یو

د فلسطین حماس جهادي غورځنګ د ایران او اسرائیلو ترمنځ د ایران له رهبرۍ او خلکو کې د اشغالگر رژیم پر وړاندې د ایران بریدونه ستایلي او د ایراني چارواکو پر وژل کېدو یې



خپل ملاتړ اعلان کړي.د حماس القسام لوا په خپره کړې خبرپاڼه خواشیني څرګنده کړې.القسام زیاته کړې: ... ۳مخ

## د ټولګټو چارو وزیر د کاپیسا د سړکونو وضعیت وارزاوه

د ټولګټو چارو وزیر ملا محمد عیسي ثاني کاپیسا ته د خپل سفر په بهیر کې؛ د دغه ولایت د سړکونو وضعیت ارزولی دی. رسنیو ته د ټولګټو چارو وزارت د معلوماتو له مخې؛ ملا محمد عیسي ثاني د دغه سفر په ترځ کې د کاپیسا ولایت د تګاب، نجراب او اله سای ولسوالیو د هغو سړکونو وضعیت له نږدې





ارزولی چې خلک یې د تګ راتګ پر مهال له ستونزو سره مخ دي. د ټولګټو چارو وزیر د یادو ولسوالیو اوسېدونکو ته ډاډ ورکړ چې د ځینو سړکونو د رغونې او بیارغونې کار یې د روان لمریز کال په پلان کې شامل دی؛ په نږدې ورځو کې به داوطلبۍ ته ورکړل شي او د تدارکاتي بهیر له ترسره کولو وروسته به یې عملي چارې پیل شي. هېره دې نه وي چې د یادو ولسوالیو د سړکونو په رغونې سره به د تګ راتګ په برخه کې د خلکو ستونزې تر ډېره بریده حل شي. باختر

## لغمان کې سلګونو کورنیو ته د ځښاک اوبه برابرېږي

د لغمان د کلیو د بیارغونې او پراختیا ریاست مسئولین وايي، چې د دغه ولایت په علیشنګ او دولت شاه ولسوالیو کې د اوبو رسولو د دوو شبکو په جوړېدو سره د سیمې ۴۵۰ کورنیو ته د ځښاک اوبه برابرېږي. د یاد ولایت د کلیو د بیارغونې او پراختیا رئیس مولوي محمد ظاهر زرکمر باختر اطلاعاتي آژانس ته ویلي، چې د اوبو رسولو دغه شبکې په علیشنګ او دولت شاه ولسوالیو کې ... ۳مخ

## د لوی اختر ورځو کې دوه نیم میلیونو کورنیو سیلانیانو د هېواد بېلابېلې سیمې وکتلې



د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت مسئولین وايي چې د تېر لوی اختر په ورځو کې، څه باندې دوه نیم میلیونو کورنیو سیلانیانو د هېواد له بېلابېلو ولایتونو څخه لیدنه کړې ده. د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت ویاند خبیب غفران، نن په یوه ویډیویي کلیپ کې ویلي چې په هېواد کې د سراسري امنیت په ټینګښت سره؛ د لوي اختر په ورځو کې څه باندې دوه نیم میلیونو کورنیو سیلانیانو د هېواد د بېلابېلو ولایتونو له ښکلاوو څخه لیدنه کړې ده. ده پکتیا، نورستان، کونړ، لغمان او غزني هغه ولایتونه یاد کړل چې تر ډېره بریده سیلانیان د سیاحت لپاره ورغلي دي. غفران ډاډ ورکړ چې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت هڅه کوي د هېواد په ټولو تفریحي سیمو کې کورنیو او بهرنیو سیلانیانو ته لازمې اسانتیاوې برابرې کړي. دا په داسې حال کې ده چې د افغانستان اسلامي امارت په بیاواکمنۍ او د سراسري ... ۳مخ

د امربالمعروف وزارت:

## د ټولنیزو رسنیو ناسم کارول په قانوني توګه څارل کېږي




د امربالمعروف، نهي عن‌المنکر او شکایتونو اورېدلو وزارت خبرداری ورکړی، چې د ټولنیزو رسنیو له لارې د خلکو تهدید، سپکاوی، توهین، ګواښ او د مستعارو یا شخصي آدرسونو له لارې اذیت رسونه، قانوني جرم بلل کېږي او پر وړاندې به یې قانوني چلند وشي. وزارت له ټولو کاروونکو غوښتي، چې ټولنیزې رسنۍ دې د موثقو معلوماتو، تعلیم، تجارت او عامه آګاهۍ لپاره وکاروي؛ نه د شخصي عقدو او یا ناسمو اهدافو لپاره. د دې وزارت په خبرتیا کې ټینګار شوي، چې هېڅوک باید ټولنیزې رسنۍ په ناسم ډول ونه کاروي، ځکه دا چاره نه یوازې قانوني ستونزې لري؛ بلکې د ټولنې اخلاقي فضا هم زیانمنوي.

تهران:

## تر څو چې د صهیونېست رژیم بریدونه پای ته نه وي رسېدلي اوربند نه کوو

رویټرز خبري آژانس د یوې باوري سرچینې په حواله راپور ورکړی، چې ایران د قطر او عمان منځګړیو ته څرګنده کړې، تر څو چې د صهیونیست رژیم تر بریدونو لاندې وي، د اوربند خبرو ته به حاضر نه‌شي. د راپور له مخې ایران منځګړو ته ویلي، چې یوازې هغه مهال به جدي خبرو ته چمتو شي، کله چې د اسرائیلو پر وړاندې د خپلو تدافعي اقداماتو لړۍ بشپړه کړي. دغه څرګندونې داسې مهال کېږي، چې د ایران او اسرائیلو ترمنځ جګړې پراخې اندېښنې راپارولي او د سیمه‌ییزې شخړې د پراخېدو احتمال یې زیات کړی دی.

## خوست کې د غنمو حاصلات ۱۲سلنه زیات شوي

خوست کې سږ کال په مرکز او ولسوالیو کې پر ۱۸ زره او ۵۹۵ هکتاره ځمکه غنم کرل شوي، چې څه باندې ۵۰ زره ټنه حاصل یې ورکړی. د خوست ولایت مقام پرون یوه خبرپاڼه کې ویلي: د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ ریاست تر چتر لاندې ۱۹زره او ۲سوه بزګرانو ته د غنمو اصلاح شوي تخمونه او کیمیاوي سرې ویشل شوي او همدا لامل شوی،



ترڅو د غنمو حاصلاتو کې زیاتوالي راشي. یو شمېر بزګران هم وايي: ... ۳مخ

## امریکا کې سږکال ۱۵۶وسله والې پېښې شوې دي

د امریکا د وسله والو پېښو د آرشیف اداري رویټرز خبري اژانس ته ویلي، چې روان میلادي کال د امریکا په ایالتونو کې ۱۵۶ وسلوالې پېښې ثبت شوې دي.رویټرز خبري اژانس دغه خبر د یادې ادارې په حواله پرون خپور کړی، خو په دغو پېښو کې د اوښتي زیان په اړه یې کره معلومات نه دي خپاره کړي. یادې ادارې امریکا کې د وسله والو پېښو معلومات داسې مهال له یاد اژانس سره شریک کړي چې پرون ماښام یوتا ایالت کې د یو کلنۍ مېلې پر مهال د دوو ډلو ترمنځ شخړه کې ۵ کسان په مرمیو ولګېدل چې درې یې ځاي پر ځای ووژل شول او دوه نور ټپیان دي. د یوتا ایالت پولیسو ویلي: په وژل شویو کې یو هم اته میاشتنی ماشوم دی. یاده دې وي ... ۳مخ

## میدان وردګو کې یو اداري کمپلکس جوړېږي

د کور او ښار جوړولو وزارت وايي چې د یاد وزارت تخنیکي تیم په میدان وردګو ولایت کې د اداري کمپلکس لپاره ۱۶۳ جریبه ځمکه توپوګرافي سروې کړې ده. د دغه وزارت د سروې او جي‌آي‌ایس رئیس، حافظ محمدیوسف لطیف ویلي، چې له دې سروې څخه یې موخه د یاد اداري کمپلکس لپاره د تفصیلي پلان ترتیبول دي. په خبرپاڼه کې ویل شوي: (( دا سروې به د هغو تخنیکي معلوماتو راټولولو ته زمینه برابره کړي، چې د اداري کمپلکس د تفصیلي پلان جوړولو، پراختیایي خدماتو او بنسټیزو تاسیساتو لپاره اړین دي.)) د کور او ښار جوړولو وزارت مسئولینو همداراز ویلي، چې د دې سروې پایلې به د یاد وزارت له اړوندو ریاستونو سره شریکې کړي، ترڅو د دغه کمپلکس لپاره یو مناسب، منظم او د اړتیاوو مطابق تفصیلي پلان ترتیب شي. د ویلو وړ ده چې له دې مخکې هم په یو شمېر نورو ولایتونو کې د ورته کمپلکسونو لپاره دا ډول سروې ګانې شوې وې.



## د پاکستان له بندخونو ۳۲ افغانان ازاد شول



په پاکستان کې د افغان کډوالو د نیولو په دوام، د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت ویلي، چې د یاد هېواد له بندخونو ۳۲ نور افغانان هم ازاد او هېواد ته راستانه شوي دي. د یاد وزارت په خبرپاڼه کې د کندهار د سپین‌بولدک سرحدي آمریت په حواله ویل شوي چې دا کډوال وړمه ورځ هېواد ته راستانه شوي دي . د خبرپاڼې له مخې راخوشې‌شوي کډوال د پاکستان په بېلابېلو سیمو کې نیول‌شوي وو او د یاد هېواد په بندخونو کې له یوې تر دوو ورځو پورې بندیان وو. د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت د معلوماتو له مخې راخوشې شوي افغانان له نوملیکنې او د بشري مرستو له ترلاسه‌کولو وروسته خپلو اصلي سیمو ته لېږل شوي دي. یاد وزارت دوه ورځې مخکې هم له پاکستاني بندخونو... ۳مخ

## اعلان وزارت اطلاعات و فرهنگ

وزارت اطلاعات و فرهنگ به تعداد (۷۸۹) قلم داغمه جات خویش را به تاریخ ۱٤۰٤/٤/۱٦ در محضر هیئت ذیربط لیلام مینماید. اشخاص، موسسات، شرکت های داخلی و خصوصی که خواهش خریداری آن را داشته باشند، درخواستی شان را به ریاست محترم مالي و اداری مدیریت محاسبه اجناس این وزارت در چهارراهی ملک اصغر مقابل وزارت امور خارجه، تعمیر اسبق وزارت دولت در امور پارلمانی بسپارند. مشخصات داغمه و مازاد را ملاحظه کرده پانزده فیصد تضمین طور پیش پرداخت اخذ می گردد.